2 017550 139621

# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۷ د مرغومې پنځمه | د ۲۰۱۸ د ډسمبر ۲۶مه | دویم کال|۳۰۷مه ګڼه

## کتاب

۴ مخ

### په یوویشتمه پېړۍ کې د بشري سرچینو مدیریت




دغه لارښود د سازماني چلند او بشري سرچینو د مدیریت پر بنسټونو تمرکز کوي او هغه بنسټیز سازماني موضوعات او عوامل څېړي چې په کاري ساحه کې پر کارکوونکو اغېز کوي.

## د امریکایي ځواکونو د وتلو له اعلان وروسته؛

# د لغوه شوو امنیتي کمپنیو کارکوونکو ته ویل شوي چې ژر بېرته خپلو دندو ته ور وګرځي



۳

## په کابل کې وروستي وحشت، خو پوښتنې او د سولې برخلیک

۲ مخ

## سوله؛ فرصتونه او ننګونې

۲ مخ

## نوې ګومارنې او څو موخې

۳ مخ

## په ښرنه کې د ۶۰ میلیونو افغانیو په لګښت جامع جومات جوړېږي



د پکتیکا په مرکز ښرنه کې د ٦۰ میلیونو افغانیو په لګښت د جامع جومات د جوړېدو چارې پیل شوې چې پر یو وخت به زرګونه کسان پکې لمونځ کولای شي.

د دغه ولایت والي الیاس وحدت وایي، جومات به د ولسمشر غني له ژمنې سره سم د یو کال په موده کې جوړ شي. جومات ته څېرمه د فاتحې اخیستنې یو لوی صالون هم جوړېږي چې ٤۰ متره اوږدوالی او ۳۰ متره سور لري.

وحدت زیاتوي: «دغه جومات عمومي سړک ته نږدې موقعیت لري چې د ښرنې سربېره به د یوشمېر ولسوالیو اوسېدونکي هم پکې لمونځ کوي».

د مرکز ښرنې قومي مشر حاجي عبدالحی وایي، د جومات لپاره ۵۰ جریبه ځمکه د خلکو له لوري وقف شوې ده.

هغه زیاتوي: «ښرنه کې جوماتونه کم دي، د اختر په لمونځونو کې خلک نه ځایېدل، دا ډېر ښه کار شو چې دومره لوی جومات جوړېږي».

## حکومت او نړیواله ټولنه د وري په ۳۱مه د ټاکنو د ترسره کېدو پر سر اختلاف لري

د ټاکنو خپلواک کمېسیون یوې سرچینې پژواک ته د نوم نه ښودو په شرط ویلي، دغه کمېسیون د وري په ۳۱مه د ولسمشرۍ او غزني ولایت د ولسي جرګې د ټاکنو ترسره کېدو ته تیاری لري، خو د حکومت او نړیوالې ټولنې ترمنځ د اختلاف له امله ملاتړ کوونکي د ټاکنو لګښت نه ورکوي. سرچینې د ملاتړ کوونکو هېوادونو او افغان حکومت نه همکارۍ ته په اشارې ویلي، ملاتړي هېوادونه د ولسمشرۍ او غزني ولایت د ولسي جرګې د ټاکنو د ځنډېدو غوښتنه کوي، خو افغان حکومت پر یوه وخت د وري په ۳۱مه، د څلورو ټاکنو (ولسمشریزو، د غزني د ولسي جرګې، د ولسوالیو شوراګانو او ولایتي شوراګانو د ټاکنو) په ترسره کېدو ټینګار کوي. سرچینې د ۱۳۹۸ لمریز کال د وري په ۳۱مه د یادو څلور ټاکنو ترسره کېدل ناشوني وګڼل او ویې ویل، تر اوسه په دې اړه له ملاتړو هېوادونو او له حکومت سره کومې پایلې ته نه دي رسېدلي.

سرچینې دې پوښتنې ته په ځواب کې چې موجوده اختلافونو ته په کتو، د ۱۳۹۸ لمریز کال د وري په ۳۱مه د ولسمشرۍ ټاکنو ترسره کېدل شوني دي؟ وویل: «د بودجې له ورکولو پرته د ۱۳۹۸ لمریز کال د وري په ۳۱مه د ولسمشرۍ ټاکنو ترسره کېدل ناشوني دي».

سرچینې د حکومت هغې غوښتنې چې پر یوه وخت دې څلور ټاکنې تر سره شي، ته په اشاره وویل، تر اوسه د ولسوالیو شوراګانو استازو ته هم کوم امتیاز په پام کې نه دی نیول شوی او هېڅوک په ولسوالیو شوراګانو کې نوملیکنې ته تیار نه دي، نو څه ډول به د ولسوالیو شوراګانو ټاکنې ترسره شي.

## په افغانستان کې مو پوځي ماموریت له پلان سره سم پر مخ ځي



۲ مخ

## وزارت صحت عامهٔ: شمار قربانیان حملهٔ کابل به ٤۵ تن رسید



وحید مجروح، سخنگوی وزارت صحت عامهٔ کشور تأید می‌کند که جسدهای ٤۵ تن و ۲۷ زخمی به شفاخانه‌ها انتقال یافته‌اند و روند انتقال جان باخته‌گان و زخمیان حملهٔ بر اداره ملی حمایت از افراد دارای معلولیت و ورثه شهدا و نیز وزارت فواید عامه، ادامه دارد.

این حمله، روز دوشنبه (۳ قوس) در کابل پس از ده ساعت درگیری مهاجمان با نیروهای امنیتی، پایان یافت.

از سویی دیگر، وزارت امور اداخله می‌گوید که در حملهٔ مسلحانه مهاجمان بر اداره ملی حمایت از افراد دارای معلولیت و ورثه شهدا و نیز وزارت فواید عامه که در نزدیکی آن قرار دارد، ۲۸ تن جان باختند و بیش از ۲۰ تن دیگر، زخم برداشته‌اند.

این وزارت می‌افزاید که ۳۵۰ تن از کارمندان این نهاد، نجات داده شده‌اند.

مقام‌های وزارت داخله می‌گویند که این حمله پس از آن آغاز شد که یک مهاجم موتر بم‌گذاری شده را در برابر این نهاد ساعت سه پس از چاشت انفجار داد و سپس سه مهاجم دیگر وارد این ساختمان شدند و تا ساعت یک شب، به درگیری پرداختند.

هیچ گروهی به شمول طالبان تاکنون مسؤلیت این حمله را به عهده نگرفته است.

HA Heart of Asia
Heart of Asia Daily
Annual subscription
Individual: 3500AFN
Organizations: 300$

M Maseer Daily
مسیر ورځپاڼه
کلنی ګډون
دولتي او شخصي دفترونو ته: ۳۵۰۰؋
بهرنیو سفارتونو او موسسو ته: ۳۰۰$

+93202502100
+93777989696
Heartofasiadaily@gmail.com
Maseerdaily@gmail.com



## دریـــځ

### په کابل کې وروستی وحشت، څو پوښتنې او د سولې برخلیک

په کابل کې ورمه ورځ په وحشیانه برید کې زموږ ۴۵ هېوادوال شهیدان او ۲۷ نور ټپیان شول. برید د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت پر معینیت او ټولګټو چارو وزارت شوی و. بریدګرو لومړی موټر بم برید وکړ او وروسته دغو ودانیو ته ننوتل، ملکي کارکوونکي یې یرغمل کړل او څو ساعته یې له امنیتي ځواکونو سره جګړه وکړه. ولسمشرۍ ماڼۍ د خبرپاڼې په خپرولو سره دا برید غندلی دی او د ولسمشر غني له خولې زیاته شوې چې وسله وال د مخامخ جګړې توان نه لري، ځکه پر ولس بریدونه کوي. اجرایه رییس هم ویلي چې دا برید طالبانو کړی دی او اوس له دې امله چې د خلکو باور لاسته راوړي، په دا ډول بریدونو کې لاس لرل ردوي. طالبانو بیا ویلي چې په دغه برید کې لاس نه لري. تر پرون ناوخته کومې بلې ډلې هم د دغه برید مسوولیت نه دی اخیستی.

له دغه برید وروسته اوس دا پوښتنه را پورته کېږي چې له طالبانو پرته بل څوک د دغه ډول بریدونو توان لري؟ که څه هم د داعش نوم اخیستل کېږي، خو داعش هم د ورمې ورځې د پېښې پړه نه ده اخیستې. له دې سره دا پوښتنه هم شته چې که طالبان سوله کوي، نو د نورو ډلو مخه به څنګه نیول کېږي ؟

د کابل د ورمې ورځې وحشیانه برید وښوده چې دلته پردي استخبارات د جګړې لپاره ډېرې ډلې او وسیلې لري. دوی د خپلو اهدافو لپاره هر وخت وحشت کولی شي. په دې سره دا هم ښکاره شوه چې که طالبان سوله کوي، جګړه به بیا هم دوام کوي او تضمین نشته چې د دغه ډول وحشتونو مخه به نیول کېږي. له همدې امله پکار ده چې له وسله والو طالبانو سره په سوله د جګړې ښکېل اړخونه، په ځانګړي ډول پاکستان، نور سیمه ییز هېوادونه او امریکا تضمین وکړي چې دلته به جګړه ختمېږي. زموږ حکومت هم له بده مرغه د دې پر ځای چې د دغه ډول وحشت اصلي لاملونه وپلټي او هغوی چې د دې جګړې تر شا دي رسوا کړي او یا هم هغه اهداف درک کړي چې د دغو بریدونو تر شا دي، هڅه کوي چې په هوایي خبرو سره خپل سیاسي اهداف تعقیب کړي. اوس پر طالبانو دا تور چې ګواکې دا برید یې کړی دی، د وحشت له کمښت او سولې سره هېڅ مرسته نه کوي. د هوایي خبرو او تورونو پر ځای حکومت باید دا برید جدي ونیسي او دا بحث را پورته کړي چې له طالبانو سره له سولې وروسته باید سیمه ییز او نړیوال هېوادونه تضمین ورکړي چې دلته به جګړه ختمېږي. پاکستان، ایران او د ترهګرو نور ملاتړي باید تضمین ورکړي چې په افغانستان کې به د خپلو اهدافو لپاره د نورو ترهګرو ډلو د جوړولو هڅه نه کوي. دا مهم او جدي بحث دی چې پکار ده حکومتي چارواکي یې په لوړه کچه را پورته کړي او په دې سره د رښتینې سولې لپاره خپل دریځ روښانه کړي. اوس وېره ده چې سیمه ییز هېوادونه به د سولې په نامه په روانه لوبه کې امتیاز واخلي، خو خپل شرارت ته به د نورو ډلو په وسیله دوام ورکړي. دغه راز به امریکا هم نړۍ ته وایي چې په افغانستان کې یې له وسله والو طالبانو سره سوله کړې، خو له خپل مسوولیت نه به تېښته کوي او دلته به وحشت روان وي. دا جدي اندېښنه ده چې پکار ده سر له اوسه ورته پام وشي او د سولې په نامه لوبه په رښتینې سوله بدله شي.

# سوله؛ فرصتونه او ننګونې



شاه محمود میاخېل
په افغانستان کې د متحده ایالتونو د سولې د انستیتیوت مشر

دریېمه برخه

**ولې سولې ته اړتیا ده؟**

د افغانستان د جنګ مسئله د زیات تاوان لرونکي بندو بست یا (Hurting Stalemate) سره مخ شوې ده او دا بندو بست ټولو خواوو ته په ډېر لوړ قیمت تمامېږي. د ملامحمد عمر په مړینه، د طالبانو د حرکت سیاسي او دیني مشروعیت چې هغه دوی خپل امیرالمومنین باله، کم شو. د ملامنصور له وژل کېدو وروسته که څه هم طالبانو په ظاهره خپل یووالی تر یوه حده ساتلی او جنګ ته یې دوام ورکړی، خو د دې ترځنګ یې د طالبانو پر مشروعیت او نظامي فعالیتونو منفي تاثیر هم کړی دی. د سیاسي مشروعیت له کمېدو سره طبیعي خبره ده چې له عربي هېوادونو څخه د طالبانو د مالي سرچینو عواید مخ په کمېدو دي. له ډېرو ملکونو سره د طالبانو اړیکې د طالبانو پر تحریک منفي تاثیر لري، ځکه د ډېرو ملکونو موخې د طالبانو د تحریک له موخو سره توپیر لري او په طبعي توګه د طالبانو په منځ کې نورې ډلې ټپلې پیدا شوې او یا ځینې طالبان له داعش سره یو ځای شول. که جنګ همداسې دوام وکړي، د طالبانو زړه رهبري پر خپلو غړو کنټرول له لاسه ورکوي. بل دا چې څومره داخلي او بهرني جنګي ډلې زیاتېږي، هماغومره د افغانستان جنګ پېچلې کېږي او طالبان هم په خپلو صفوفو کنټرول له لاسه ورکوي. همداشان د ۲۰۱۴ ز کال له مې میاشتې راپه دېخوا که څه هم طالبانو له ټولو سیاسي او پوځي ستونزو سره سره جنګ ته دوام ورکړ، خو د جنګ دوام طالبانو ته په ډېره لوړه بیه تمام شو او په لسګونه زره جنګیالي یې د جنګ په ډګر کې ووژل شول او دوی ته نږدې سرچینې وایي چې د دوی له څلورېښتو زرو نه زیات کسان د افغانستان له حکومت سره بندیان دي، په داسې حال کې چې د افغانستان حکومت دا شمېر نه تاییدوي.

افغان حکومت او عامو خلکو ته هم روان جنګ په ډېر لوړ قیمت تر اوسه تمام شوی دی. له ۲۰۱۴ ز کال نه راپه دېخوا تقریباً ۲۹ زره امنیتي ځواکونه په جنګ کې وژل شوي دي او اوس هم هره ورځ له ۲۰۰-۳۰۰ کسان په جنګ کې وژل کېږي. ملکي تلفات زیات شوي، د بېوزلۍ کچه ۵۳ سلنې ته رسېدلې او نړیوال هم ستړي شوي یا له (Donor Fatigue) سره مخ دي چې له افغان حکومت او خلکو سره خپلو مرستو ته تر نامعلومې مودې لپاره دوام ورکړي. افغان حکومت او یا هغه کسان چې د تېرو څو کلونو په موده کې د روان جنګ له امله چاغ شوي، فکر کوي چې نړیوال باید له دوی سره تر نامعلومې مودې مرستې وکړي او جنګ هم د دوی لپاره وګټي؛ خو دا د نړیوالو لپاره ډېره ستونزمنه ده. په حقیقت کې نړیوالو د افغانانو په سیاسي مشرانو او هم د افغانستان په حکومت او ادارو باندې خپل اعتماد له لاسه ورکړی دی.

د ټرمپ ادارې لپاره د افغانستان جنګ چندان لومړیتوب نه لري او له خپلو جنرالانو څخه دوې پوښتنې کوي چې ایا دوی د افغانستان جنګ د پوځي زور له لارې ګټلی شي او کنه؟ او بل دا چې د افغانستان جنګ د امریکا لپاره څه ګټه لري؟ زما په اند د دواړو پوښتنو لپاره شاید ځواب منفي وي، ځکه دوی چې د افغانستان جنګ د زیاتو پوځونو په شتون کې ونشو ګټلای، نو څنګه به یې په محدودو ځواکونو، په محدوده موده کې وګټي. له ۲۰۰۲ ز کال راپه دېخوا نړیوالو او د امریکا د حکومت لپاره په افغانستان کې لویه ستونزه د ښې حکومتولۍ او د قانون د حاکمیت نشتون دی. که په افغانستان کې حکومتولي ښه نه شي او د قانون حاکمیت رامنځته نه شي، که نړیواله ټولنه هر څومره مرستې هم وکړي، کوم ځای نه نیسي. د حکومتولۍ ښه کېدل، په افغانانو او د افغانستان په حکومت پورې اړه لري او نړیوال هېڅکله نه شي کولای چې په افغانستان کې حکومتولي ښه کړي. د همدغو ستونزو له امله، ولسمشر ټرمپ، د جنوبي اسیا ستراتېژي له ډېر ځنډ وروسته زړه نا زړه اعلان کړه چې په څلورو عمده ټکو تاکید کوي چې باید پر پاکستان فشار راوستل شي، څو طالبان د خبرو مېز ته کېنوي او یا د افغانستان د سولې په پروسه کې صادقانه مرسته وکړي. په افغان حکومت هم باید فشار زیات شي چې حکومتولي ښه کړي او نور به د افغانستان حکومت ته سپین چک نه ورکوي، د افغانستان له امنیتي ځواکونو سره به مرسته کوي، څو افغانستان په خپلو پښو ودرېږي او هم به د سولې خبرو ته زمینه مساعدوي.

د افغانستان جګړه لکه څنګه چې پخوا شوروي اتحاد ته (Bleeding Wound) یا ناسور زخم و، همداشان اوسنۍ جګړه د جنګ ټولو اړخونو ته او په خاصه توګه افغانانو ته شدید ناسور دی. د افغانستان جنګ نظامي حل نه لري او باید چې د جګړې د پای لپاره سیاسي حل ولټول شي.

**ولې د سولې په خبرو کې ګړندیتوب رامنځته شوی دی؟**

د سیمې له هېوادونو، د افغانستان له حکومت او هم له طالبانو سره وېره دا ده چې کېدای شي د امریکا ولسمشر ټرمپ په یو اړخیزه توګه تصمیم ونیسي، څو له افغانستانه د خپلو ځواکونو د وتلو امر صادر یا ټویټ (Tweet) وکړي. د خارجي پالیسیو په هکله د ټرمپ (Unconventional Approach ) یا غیر مترقبه تصمیم نیول، ټولې خواوې په اندېښنه کې اچولې دي، ځکه د امریکا په نشتون کې یو سیمه ییز هېواد هم نه شي کولای چې د امریکا تشه ډکه کړي او ټولې خواوې د امریکایي ځواکونو با مسوولیته وتل یا(Responsible Withdrawal) غواړي. افغان حکومت خو د امریکا له حمایت پرته په یقیني توګه نه شي کولای چې د زیاتې مودې لپاره په قدرت کې پاتې شي. طالبان هم د قدرت د خلا له رامنځته کېدو نه وېره لري، ځکه دوی هم نه شي کولای چې د نظام د نشتون خلا ډکه کړي.

که خدای ناخواسته د افغانستان نظام سقوط کوي، په افغانستان کې له نوییمې لسیزې د بدتر حالت توقع شته او هغه حالت به په ټوله کې افغانانو ته او په خاصه توګه سیمه ییزو هېوادونو ته جدي ګواښ وي چې نړیوال هم د هغه حالت له ضرر نه بچ نه شي پاتې کېدای. په دې اساس، د سولې خبرې امریکا او په ټوله کې افغانانو، طالبانو او هم سیمه ییزو هېوادونو ته استعجالیت لري. په همدې موخه، امریکا د سولې لپاره نوی استازی زلمي خلیلزاد وټاکه. د خلیلزاد له ټاکلو د مخه، د افغانستان د موضوع په اړه د امریکا د بېلابېلو ادارو ترمنځ جلا نظرونه او تګلارې موجودې وې، خو اوس د امریکا ټولې ادارې په یوه خوله دي چې د افغانستان د مسئلې د حل لپاره باید سوله ییزې لارې چارې ولټوي. له افغانستانه د دوی وتل باید با مسوولیته وتل وي چې افغانستان بیا له یوه بل ناورین سره مخ نه شي.

**ایا ټولې خواوې واقعاً سیاسي حل غواړي او که نه؟**

که پورته شواهدو ته نظر وکړو، په لنډ ډول ویلی شم چې د افغانستان حکومت او ولس، امریکا او نړیواله ټولنه، طالبان او اکثره سیمه ییز هېوادونه د افغانستان د مسئلې حل د سیاسي خبرو له لارې غواړي. نړیواله ټولنه، سیمه ییز هېوادونه، افغان حکومت او افغانان ټول په دې نظر دي چې د افغانستان د مسئلې حل د زور او جنګ له لارې ممکن نه دی. البته جنګ یو بل ته دردسر جوړولی شي، خو د جنګ دوام د ټولو اړخونو لپاره ګټه نه لري. که د سولې خبرې ځای ونه نیسي او فرض کړو چې دنیا ستړې شوه او طالبانو د جنګ له لارې قدرت ونیو، بیا هم طالبان نه شي کولای چې په ارامه حکومت وکړي، ځکه د دنیا اکثره ملکونه یې په رسمیت نه پېژني او نه ورسره مالي او نظامي مرستې کېدای شي. داخلي جګړې به بیا یو بل شکل نیسي او نورې ډلې به د دوی په مقابل کې جنګېږي.

که له یوې خوا ټولې خواوې د سیاسي حل طرفداره دي، خو له بله اړخه د ټولو خواوو ترمنځ بې اعتمادي نهایت زیاته ده. د اعتماد جوړونې لپاره زیاتو هلو ځلو ته اړتیا ده، څو د رسمي خبرو لپاره دروازه خلاصه شي. د سولې په پروسه کې همېشه د رسمي خبرو پیل کېدو ته زمینه مساعدول، په حقیقت کې پنځوس سلنه د سولې په خبرو کې پرمختګ دی.

**ایا د متخاصمو خواوو په موقفونو کې څه تغیر لیدل کېږي او که نه؟**

د ټولو خواوو په رسمي موقفونو کې مهم تغیر لیدل کېږي، خو په غیر رسمي ناستو کې د ټولو خواوو موقفونه د رسمي موقفونو په پرتله ډېر زیات نرم او نږدې دي. طالبانو پخوا ویل چې دوی د افغانستان له حکومت سره خبرې نه کوي او ویل به یې چې ترڅو چې یو بهرنی عسکر په افغانستان کې وي، دوی خبرو ته حاضر نه دي او جنګ ته به دوام ورکوي. طالبان اوس وایي چې دوی د امریکا د ټولو ځواکونو د وتلو پر ځای له امریکا نه د وتلو مهالوېش د امریکا په خوښه غواړي او موده هم باید امریکا وټاکي. البته دا موده باید له دوو-دریو کلونو زیاته نه وي. طالبانو ویل چې د افغانستان له حکومت سره هېڅکله خبرې نه کوي. د طالبانو دلیل دا دی چې امریکا د دوی په نزد، د دوی مشروع حکومت له منځه وړی او دوی له امریکا سره په جنګ کې دي. د کابل حکومت د امریکا په زور رامنځته شوی او د خبرو واک نه لري. که څه هم طالبان خپل پخوانی نظام مشروع ګڼي، خو په حقیقت کې دوی هم قدرت په زور نیولی و او مشروعیت یې په هغه وخت کې هم تر پوښتنې لاندې و. اوس طالبان وایي کله چې امریکا د وتلو مهالوېش تعین کړ، بیا دوی د افغانستان د حکومت د پلاوي په ګډون بین الافغاني ناستې ته حاضر دي چې په نورو مسایلو، لکه د افغانستان د نظام په ډول، اوربند، د بندیانو په خوشې کېدو، له تورلېست نه د طالبانو پر وتلو، له نظام سره د طالبانو په یو ځای کېدو، د اساسي قانون په تغیر او نورو مسایلو باندې خبرې وکړي.

امریکا که څه هم له طالبانو سره پخوا تماسونه درلودل او خبرې یې کولې، ځکه د همدغو خبرو او تماسونو په لړ کې د قطر دفتر جوړ شو، خو د رسمي خبرو په هکله یې ویل چې دوی باید د افغانستان له حکومت سره خبرې وکړي، خو اوس د امریکا حکومت دې ته حاضر دی چې له طالبانو سره خبرې وکړي، که څه هم په رسمي توګه یې د خبرو کولو تایید نه دی کړی، خو په غیر رسمي توګه خبرې روانې دي او په دې وروستیو کې په ابوظبۍ کې د امریکا، طالبانو، پاکستان، متحده اماراتو، سعودي عربستان او له افغان پلاوي سره دوه جانبه او څو اړخیزې خبرې یې ښه بېلګه ده.

افغان حکومت هم پخوا ویل چې طالبان دې اساسي قانون ومني، اوربند دې اعلان کړي، سلاوې دې تسلیم کړي، طالبان دې راشي او د یو سیاسي ګوند په توګه د فعالیت وکړي، خو اوس د افغانستان حکومت بې له قید او شرطه خبرو ته حاضر دی، البته په نورو مسایلو به د مذاکراتو په لړ کې بحث کېږي.

په دې توګه د ټولو خواوو په رسمي موقفونو کې تغیر راغلی، خو ستونزه د رسمي مذاکراتو په شروع کېدو کې ده چې څنګه د کوټې د ننوتلو دروازه په کلي باندې خلاصه شي. که هره خوا علني یا په یو اړخیزه توګه خپل موقف علني اعلانوي، په حقیقت کې مقابل لوري ته نور هم امتیاز ورکوي، بې له دې چې له مقابل لوري نه کوم تعهد او نرمښت موجود وي. **دوام لري...**

## ډانفورډ: په افغانستان کې مو پوځي ماموریت له پلان سره سم پر مخ ځي

له افغانستان څخه د نیمایي امریکایي سرتېرو د وتلو له راپورونو سره سره د امریکایي ځواکونو لوی درستیز جنرال جوزف ډانفورډ ویلي، په دغه هېواد کې به د سرتېرو ماموریت د پلان پر اساس دوام ومومي.

سټارز او سټرېپس خپرونې ویلي، نوموړي دغه څرګندونې د نوي میلادي کال د راتلو په مناسبت په کابل کې له سلګونو امریکایي سرتېرو سره د لیدنې پرمهال کړې دي.

هغه ویلي: «مختلفې اوازې شاوخوا خپرېږي، ستاسو نننی ماموریت هغه ماموریت دی چې تاسو پرون لاره».

دا په داسې حال کې ده چې د راپورونو له مخې د ټرمپ ادارې، دفاع وزارت ته امر کړی چې له افغانستان څخه د ۷ زرو امریکایي سرتېرو د ایستلو پلان ترتیب کړي. خو په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو قوماندان سکاټ مېلر د یکشنبې په ورځ رسنیو ته وویل، له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو د وتلو په اړه د امریکا دفاع وزارت امر لا دوی ته نه دی رسېدلی.

ډانفورډ وویل، که چېري یې د بدلون په اړه څه تر لاسه کړل، د پوځ له مشرانو سره به یې شریک کړي.

نوموړي زیاته کړه: «که چېري له دې څخه سربېره یو څه موجود وي چې تاسو ته یې ووایو، یقیناً چې زه به یې تاسو ته ووایم. جنرال مېلر په دې پوهېږي چې په مناسب وخت کې ممکن کوم بدلون رامنځته شي.»

له افغانستان څخه د نیمایي امریکایي سرتېرو د ایستلو په اړه د خپرو شوو راپورونو په غبرګون کې د افغانستان جمهوري ریاست وویل چې د امریکایي سرتېرو وتل به پر امنیتي وضعیت اغېز ونه کړي.

د امریکا د دفاع وزارت د معلوماتو له مخې، دا مهال ۱۴ زره امریکایي سرتېري په افغانستان پر خپل ماموریت بوخت دي چې عمده برخه یې د افغان ځواکونو روزل دي.

په افغانستان کې د امریکا په ۱۷ کلنه جګړه کې چې د دغه هېواد په تاریخ کې تر ټولو اوږده جګړه بلل کېږي، څه د پاسه ۲۴۰۰ امریکایي سرتېري وژل شوي دي.

# نوې ګومارنې او څو موخې

لیکنه: سپین سالار

ارګ د تېرې یکشنبې په ورځ د ملي امنیت دوه پخواني رییسان، اسدالله خالد او امرالله صالح د ملي دفاع او کورنیو چارو د سرپرست وزیرانو په توګه اعلان کړل.
له دې مخکې عمر داودزی د سولې د عالي شورا د دارالانشا د مشر او د ولسمشر د ستر سلاکار په توګه وټاکل شو .
ځینو رسنیو د ملي امنیت پخواني مشر رحمت الله نبیل ته د حکومت له خوا د ځینو لوړو څوکیو د ورکړې د وړاندیز خبرونه هم خپاره کړي.
پر حکومت د منتقدینو او امریکا ته د باور وړ کسانو له ګومارنو احتمالي موخې:
که څه هم د ملي وحدت حکومت بنسټ د دوو ډلو ترمنځ د واک پر وېشلو اېښودل شوی، داسې چې د حکومت ټولې څوکۍ د دوو لورو ارګ او سپېدار مانۍ ترمنځ په مساوي ډول وېشل شوې، خو له دې وروستیو ګومارنو داسې ښکاري چې حکومت په دغه کار سره څو نورې موخې تعقیبول هم غواړي.
په هېواد کې د امریکایي پوځیانو د پاتې کېدو په اړه امریکا ته لابي کول، له نورو سره د خپلو ناکامیو شریکول، په راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو کې د ځان د بري یقیني کول، له حکومت څخه په دې وروستیو کې د حنیف اتمر په ګډون د ځینو مهمو کسانو وتل او د هغوی د تشې ډکول، د ملي وحدت حکومت له خوا په لوړو څوکیو د نویو کسانو د ګومارنو موخې کېدای شي.
د طالبانو او سپیني ماڼۍ د استازو ترمنځ د ابوظبی له ناستې وروسته د سپیني ماڼۍ له خوا داسې خبرونه خپاره شول چې امریکا به په راتلونکو څو اونیو کې له افغانستان څخه د خپلو اوو زرو پوځیانو د وتلو لړۍ پیل کړي.
که څه هم د امریکا پخواني ولسمشر بارک اوباما لا پخوا په ۲۰۱۱ میلادي کال کې اعلان وکړ چې د ۲۰۱۴ میلادي کال تر پایه به له افغانستان څخه خپل ټول پوځیان وباسي او یوازې محدود شمېر به په خپلو اډو کې پاتې شي، خو په ۲۰۱۴ میلادي کال کې د ملي وحدت حکومت په رامنځته کېدو سره حکومت د امریکایي پوځیانو پاتې کېدو لپاره لابي پیل کړه او د امریکا ولسمشر ټرمپ یې د افغانستان طبیعي زېرمو ته تطمیع کړ او ټرمپ بالاخره په افغانستان کې د خپلو پوځیانو د ډېرېدو پرېکړه وکړه، خو اوس داسې ښکاري چې سپینه ماڼۍ نور په افغانستان کې پر خپل بري او د ملي وحدت حکومت د مشرانو پر ژمنو بې باوره شوې ده، خو د ملي وحدت حکومت هڅه کوي چې په کابینه په تېره بیا امنیتي سکټور کې نویو او امریکا ته د باوري څېرو په ګومارلو سره یوځل بیا د سپینې ماڼۍ باور ترلاسه او د خپلو پوځیانو د وتلو پرېکړې بدلولو ته یې راضي کړي.
امرالله صالح او اسدالله خالد هغه کسان دي چې له امریکا سره ډېرې نږدې اړیکې لري.
دغه راز حکومت غواړي چې خپل سیاسي منتقدین او مخالفین د لوړو څوکیو په ورکولو سره قانع او په راتلونکو ټاکنو کې یې له مخالفت څخه ځان بې غمه کړي.
په دې وروستیو کې له حکومت څخه د حنیف اتمر، اکرم خپلواک او حکمت خلیل کرزي په ګډون ځینې لوړپوړي چارواکي ووتل او په عامه افکارو کې حکومت په ځانګړې توګه د ارګ لوری منزوي ښکاره شو، نو د حکومت د نویو څېرو له ګومارلو څخه یوه موخه دا هم ده چې غواړي خپل انزوایي حالت بېرته ډک کړي.
بل ګومان دا هم دی چې د ملي وحدت حکومت چې په ۲۰۱۴ میلادي کال کې واک ته له رسېدو را په دې خوا یې له امریکاسره یو داسې امنیتي تړون لاسلیک کړ چې په اړه یې له ولس سره لا ډېرې پوښتنې نه دي حل شوې. د پاکستان د پوځ له خوا پر ډیورنډ کرښه د اغزن سیم د غځولو، د امریکایي پوځیانو له خوا د شپنیو عملیاتو د پیلېدو، بمباریو او ولسي خلکو د مرګ ژوبلې د زیاتېدو پر وړاندې افغان حکومت هېڅ ډول رسمي غبرګون یا نه دی ښودلی او یا یې کمزوری دریځ په ډاګه کړی. دغه راز په هېواد کې د بېکارۍ کچه لوړه شوې او د خلکو اقتصادي وضعیت له ستونزو سره مخ دی او د ځینو سرچینو په وینا، له ۴۰ تر ٦۰سلنه هېوادوال د بېوزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي چې له امله یې د ملي وحدت حکومت په عامه افکارو کې خپل باور له لاسه ورکړی او اوس د نویو څېرو په ګومارلو سره غواړي خپل سیاسي مخالفین هم په خپلو ناکامیو کې شریک کړي او هم په دې توګه په ټاکنیزو شعارونو کې یوځه ولري چې ولس ته یې د بیا ځلي رایې ترلاسه کولو لپاره توجیه کړي او دغه ناکامي یوه عمومي مسئله معرفي کړي.

## د امریکایي ځواکونو د وتلو له اعلان وروسته؛

# د لغوه شوو امنیتي کمپنیو کارکوونکو ته ویل شوي چې ژر بېرته خپلو دندو ته ور وګرځي



په افغانستان کې د امنیتي کمپنیو پخوانیو کارکوونکو ته ویل شوي چې تیار اوسي، څو ژر بېرته خپل کار پیل کړي.
په افغانستان کې ډېرې امنیتي کمپنۍ فعالې وې چې څو کاله وړاندې د پخواني ولسمشر حامد کرزي له خوا لغوه شوې او ځای یې رسمي امنیتي ځواکونو ونیو.
اوس چې له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو د وتلو بحث کېږي، ورسره سم د افغان جګړې د خصوصي کولو خبرې هم کېږي. د لغوه شوو کمپنیو پخوانیو کارکوونکو ته یې د مشرانو له خوا ویل شوي چې تیار اوسي، څو ژر بېرته خپل کار پیل کړي.
د محمدشاه په نوم د یوې امنیتي کمپنۍ پخواني کارکوونکي چې د هغه په غوښتنه د کمپنۍ نوم نه اخلو، مسیر ورځپاڼې ته وویل چې د کمپنۍ له خوا ورسره اړیکه نیول شوې او ورته ویل شوي چې ژر به بیا دنده پیل کړي. نوموړی وايي: «کلونه وشول چې کمپنۍ مو لغوه شوې ده، زه اوس په بل کار بوخت یم، خو یوه اونۍ وړاندې راسره اړیکه ونیول شوه او راته وویل شول چې کمپنۍ بېرته فعالېږي».
د لغوه شوو امنیتي کمپنیو ځینو نورو پخوانیو کارکوونکو هم مسیر ته دا خبره تایید کړې ده.
د مسیر معلومات ښيي چې ځینو افغان سیاستوالو له پخوا د بلک واټر له بنسټګر اېریک پرېنس سره اړیکې لرلې او ځینو ورسره تازه په دوبۍ کې کتلي هم دي. ویل کېږي چې د بلک واټر بنسټګر، دوی ته ډاډ ورکړی چې که د افغانستان جګړه خصوصي شي او دوی ته وسپارل شي، نو ځینې قراردادونه به دوی ته هم ورکړل شي او په دوی پورې تړلې کمپنۍ به هم پکې فعالې وي.
د مسیر معلومات ښيي، دغه کمپنۍ چې خپلو پخوانیو کارکوونکو ته یې د کار د بیا پیل په اړه ویلي، د همدغو سیاستوالو دي چې د بلک واټر له بنسټګر سره یې کتلي دي.
لا معلومه نه ده چې افغان جګړه به خصوصي کمپنیو ته سپارل کېږي او که نه، خو اېریک پرېنس او ملګري یې په امریکا کې د دغه کار لپاره پراخه لابي کوي او ویل کېږي چې له ټرمپ سره نږدې اړیکې هم لري.
د بلک واټر بنسټګر له افغان سیاستوالو سره هم له نږدې اړیکې لري او ډېر کله ورسره ګوري هم. ځینو دغو سیاستوالو تایید کړې چې له اېریک پرېنس سره یې کتلي دي.

# اردوغان د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ ترکیې ته وربللی




د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان د امریکا د متحدو ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ ته د ورتګ بلنه ورکړې ده. سپینې ماڼۍ ویلي، اردوغان په ۲۰۱۹ میلادي کال کې ټرمپ ترکیې ته ور بللی دی.
د سپینې ماڼۍ په بیان کې ویل شوي، ولسمشر ټرمپ په راتلونکي کې د داسې لیدنو او کتنو په اړه خلاص فکر لري، خو کوم ځانګړی پلان لا نه دی جوړ شوی.
اردوغان وروسته له هغې ټرمپ ته ترکیې ته د ورتګ بلنه ورکوي چې امریکا په دې وروستیو کې اعلان وکړ چې له سوریې خپل ځواکونه باسي.
په همدې حال کې ترکیه له هغو هېوادونو ده چې په سوریه کې پوځي عملیات کوي او د سوریې د بحران د حل لپاره په مذاکرو کې یو مهم سیاسي اړخ بلل کېږي.
دغه راز ټرمپ او اردوغان د روانې اونۍ په پیل کې له سوریې د امریکایي ځواکونو پر وتلو هم ټلیفوني خبرې وکړې.
د متحدو ایالتونو د ولسمشر دې پرېکړې چې خپل عسکر له سوریې باسي، د امریکا په سیمه ییزو متحدانو کې اندېښنې زیاتې کړې او د نوموړي دا پرېکړه د هغه د دفاع وزیر جېمز مټېس د استعفا یو اساسي دلیل و. مټېس به د نوي میلادي کال د فبرورۍ تر ۲۸مې کار وکړي او تر هغه وروسته به په رسمي توګه خپله دنده پرېږدي.
د اردوغان ویاند د دوشنبې په ورځ وویل چې د امریکا پوځي چارواکي به روانه اونۍ ترکیې ته ورشي او له سوریې د امریکایي عسکرو د وتلو پر پلان به له ترکي لوري سره خبرې وکړي.
دا په داسې حال کې ده چې ټرمپ د یکشنبې په ورځ وویل چې له سیمې د امریکایي ځواکونو په تدریجي او هماهنګ شوي ډول، د هغوی د وتلو په اړه یې له اردوغان سره ټلیفوني خبرې کړې دي.
بلخوا د ترکیې ولسمشر هم ویلي چې هغه او ټرمپ د سوریې په اړه موافقه کړې او له نوموړي سره یې خپلې خبرې ګټورې بللې دي.
د یادونې ده چې ډونالډ ټرمپ د یکشنبې په ورځ پر ټوېټر ولیکل، چې په سوریه کې د داعش د وسله والې ډلې د له منځه وړلو ماموریت به ترکیه پر غاړه واخلي.

## د کتـــاب خبــرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډیوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### دویم څپرکی
### له "ماتې منلو» او «بهانې لټولو» سره مبارزه وکړئ




څوک چې نه چېرته رسېدلي وي او نه یو ځای د ته رسېدو څه پلان لري، دوی ټول عمر ځان ته د برات ورکولو لپاره یو کتاب بهانې او دلایل پیدا کړي وي. د چا چې له خپل کار سره زړه نه لگېږي، ټول عمر د دې پوښتنو په ځوابولو کې حاظر ځوابه وي چې:

- ولې یې نه لرم؟
- ولې یې نشم کولای؟
- ولې نه یو؟
- ولې یې نه کوو؟

اوس د بریالیو انسانانو ژوند ته ځیر شئ، دلته به هم وگورئ، ټولې هغه بهانې چې ناکام او عادي خلک یې کوي، دا بریالی انسان یې هم کولای شي، خو نه یې کوي!

ما نه دي اورېدلي چې یو بریالي انسان (رئیس، پوځي، پلورنکی، لیکوال یا رهبر) دې د ځان پټولو لپاره یوه یا دوې بهانې نه وي لرلې. روز ویلیټ خپلې فلج شوې پښې بهانه کولای شوی، ترومن دا بهانه کولای شوی چې زه رسمي زده کړې نه لرم؛ استاد عبدالله بختاني خدمتگار او استاد حبیب الله رفیع ورته بهانې کولای شوې، کینیډی دا بهانه کولای شوی چې زه د جمهوري ریاست عمر او تجربه نه لرم، جونسن او ایزنهاور د زړه حملې د ځان لپاره بهانه کولای شوی.

بهانې لټول ناروغي ده او که سمه درملنه یې و نه شي، د نورو ناروغیو په څېر دا هم سختېدای شي. په دې ناروغۍ اخته خلک له دې ذهني بهیره تېرېږي. زه خپل کار سم نشم کولای، نو د ځان ساتلو او خوندیتوب لپاره څه دلیل او بهانه پیدا کړم؟ بیسوادي؟ تېر عمر؟ ځواني؟ بدبختي؟ ښځه/مېړه؟ شخصي ستونزې؟ کورنۍ تربیه؟ ....؟)

مات شوی انسان چې څنگه مناسبه بهانه پیدا کړي، پرې تکیه شي او بیا خپلې ماتې او وروسته پاتې والی، ټول پر همدې بهانه توجیه کوي.

ماتې منلی انسان چې څنگه په دلیل او بهانې تکیه شي؛ نو په لاشعور کې یې د دې بهانې نقش لا هم ژور شي. زموږ افکار که مثبت وي که منفي په تکرار او دوام تقویه او تغذیه کېږي. د ماتې منلو او بهانې لټولو په ناروغۍ اخته انسان چې لومړي سر کې بهانه کوي، ښه پوهېږي چې دروغ دي، خو څومره یې چې تکراروي، دومره یې دا دلیل قوي کېږي او بیا همدا د خپلو ماتو، کمزوریو او وروسته پاتې کېدو دلیل ښیي.

نو بریا ته د رسېدو د برنامې لومړۍ مرحله دا ده چې ځان د دې ناروغیو پر وړاندې واکسین کړو.

د ماتې منلو ناروغي بېلابېلې بڼې لري، خو تر ټولو خطرناکه هغه یې: د کافي قوت، ځیرکتیا، مناسب عمر او بخت نه لرل دي. راځئ اوس دا وگورو چې د دې څلور واړو پر وړاندې ځان څنگه وقایع کولای شو.

څلور مشهورې بهانې

الف. (خو زما صحت دومره ښه نه دی.) دا بهانه له دې راپیلېږي چې (نن ښه نه یم) او بیا تر : (ولا دا او هغه ناروغي لرم)، رسېږي.

د هیلو نه پوره کېدو، د مسئولیت نه اخیستو، د ماتې منلو، د لوړ عاید نه لرلو او نورو ډېرو ماتو په دلیل کې ناروغي د بېلابېلو بهانو په توگه وړاندې کېږي. میلیونونه خلک د بهانې لټولو پر ناروغۍ اخته دي، خو ایا د دوی معذرت په ډېرو مواردو کې پر ځای دی؟ یوه شبېه د هغو بریالیو ملگرو په اړه فکر وکړئ چې ناروغي یې بهانه کولای شوه، خو بهانه یې نه کړه.

زما ډاکتران ملگري پر دې باور دي چې بشپړ روغ انسان بیخي نشته. ټول انسانان له روغتیایي پلوه ستونزې لري. زیاتره یې داسې دي چې د ناروغۍ بهانې ته بشپړ یا لږ تسلیمېږي، خو کامل انسانان داسې نه کوي. د یوه ماسپښین دوو تجربو ماته وښودله چې د روغتیا په اړه کوم چلند سم او کوم ناسم دی.

په کلیولند کې له وینا وروسته یو نږدې دېرش کلن ځوان خوا ته راغی او ویې غوښتل، چې یو څو دقیقې راسره شخصي مجلس وکړي. ځوان زما وینا وستایله خو زیاته یې کړه: (له بده مرغه ستا نظریات زما چندانې په درد نه خوري.) بیا یې خبره وغځوله: دا ځکه چې زړه مې ډېر ښه نه دی او باید پرې باید وکړم. بیا یې وویل: تراوسه مې څلور ډاکتران لیدلي، خو یوه هم زما ستونزه تشخیص نه کړه، ته راته څه مشوره لرې؟

ما ورته وویل: زه خو په زړه ولاکه چندان پوهېږم، خو د داسې ستونزې پر وخت یوازې درې کاره کولای شم. لومړی دا چې ستونزه د زړه له تکړه متخصص سره شریکه کړم او د هغه تشخیص د نهایي نظر په توگه ومنم. تاسې وویل چې تراوسه څلورو ډاکټرانو ته تللي یاست، خو ستونزه مو تشخیص شوې نه ده، نو ښه دا ده چې پنځم ډاکټر ته ورشئ او د ده تشخیص د نهایي نظر په توگه ومنئ. ښایي ستاسې زړه اوس کومه ناروغي و نه لري، خو که تاسې ورته دومره اندېښنه کوئ، نو ښایي راتلونکې کې د زړه او رگونو په جدي ناروغۍ اخته شئ. د ناروغۍ په اړه تشویش، زیاتره وخت پخپله ناروغي زېږوي.

دویم وړاندیز مې دا دی چې د ډاکتر شیندلر کتاب (د کال ۳٦۵ ورځې به څنگه تېروو) حتمن ولوله. شیندلر په دې کتاب کې وایي: په (۴۰۰۰)کې (۳۰۰۰)د ناروغانو کټونه هغو خلکو نیولي چې ناروغۍ یې عصبي ریښه لري. اوس تاسې فکر وکړئ، که په څلورو کې درې ناروغان په دې پوهېدای چې عصبي فشار (سټریس) څنگه کنټرول کړي، نو سر به یې روغتون ته نه و دننه کړی. د ډاکتر شیندلر کتاب ولولئ او د عصبي هیجانونو د کنټرول لپاره یوه برنامه ترتیب کړئ.

**دوام لري...**

# په یوویشتمه پېړۍ کې د بشري سرچینو مدیریت

**اکسوس کتابپلورنځی**

(پـه یوویشــتمه پېـړۍ کــې د بــشري سرچینــو مدیریــت) کتــاب تــازه پښــتو شــوی. د کتـاب لیکـوال زورلوسـن یوسـل دی چـې سـید نورالله عابـد پښـتو کـړی دی. د کتــاب پښــتو بڼــه ۱۲۴ مخونــه لــري.

دا کتـاب د لېسـانس پـه کچـه د بـشري سرچینــو د مدیریــت پــه برخــه کــې د مهمــو موضوعاتــو او اوســنیو بحثونــو یــو غورچـاڼ وړانـدې کـوي. د کتـاب موخـه د لانـدې اړینـو پوښــتنو د ځوابونـو پـه موندلـو کـې د بـشري سرچینـو د مدیریـت لـه زده کړیالانـو سره مرسـته کـول دي:

۱-د بــشري سرچینــو مدیریــت څــه شــی دی؟
۲- د بـشري سرچینـو مدیریت څنگـه پـه سـازماني ترتیباتـو کـې کارول کېږي؟
۳- ولـې خلـک د نـورو سـازمانونو پـه څېـر مهـم دي؟
۴- څنگـه کـولای شـو، بـشري سرچینـې پـه یوویشــتمه پېـړۍ کـې پـه اغېزنـاک ډول اداره کـړو؟


دغـه لاربښـود د سـازماني چلنـد او بـشري سرچینـو د مدیریت پـر بنسـټونو تمرکـز کـوي او هغه بنسـټیز سـازماني موضوعات او عوامـل څېـړي چـې پـه کاري سـاحه کـې پـر کارکوونکـو اغېـز کـوي. کـه څـه هـم ممکنـه نـه ده چـې پـه دغـه لارښـود کـې د بیـان شـوې هـرې موضـوع پـه اړه د مکمـل کتـاب ولیـکل شي، خـو پـه کتـاب کـې د امـکان تـر حـده د هـرې موضـوع پـه اړه پـوره معلومـات راټـول شـوي دي. همدارنگـه د هـر څپرکـي پـه پـای کـې څـو پوښـتنې راوړل شـوې دي، څـو د ذکـر شـویو موضوعاتـو پـه اړه ستاسـو د پوهــې کچــه وارزوي.

د کتـاب دویـم څپرکـی د خلکـو طبیعـت او پـه سـازمان کـې د دوی رول تشرېـح کـوي. درېیـم څپرکـی د بـشري سرچینـو پـر مدیریـت تمرکـز کـوي. څلـورم څپرکـی یـې د کارکوونکـو پـر هڅونـه او ژمنتیـا راڅرخـي. پنځـم څپرکـی پـه یـو سـازمان کـې د ډلـو او ټیمونـو ارزښـت او شـپږم څپرکـی یـې بیـا سـازماني کلتـور او پـه سـازماني کلتـور کـې د بـشري سرچینـو رول بیانـوي.

اووم څپرکی سـازماني جوړښـت تعریفوي. اتـم څپرکـی سـازماني او انفـرادي زده کـړې او نهـم څپرکـی لـه هغـو بنسـټیزو موضوعاتـو څخـه بحـث کـوي، کـوم چـې پـه اوسـني سـوداگریز چاپېریـال کـې د بـشري سرچینـو کارکوونکـي لـه ننگونـو سره مـخ کـوي.

پـه ټولـه کـې کتـاب د بـشري سرچینـو د مدیریـت پـه اړه ښـه ماخـذ دی.

مینـه وال کـولای شي دا کتـاب پـه اکســوس او د ښــار پــه نــورو لویــو کتابپلورنځیــو کــې پــه مناســب قېمــت ترلاســه کــړي.




## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | ژوند (ناول) | محمد خان ذهین | ۱۰۰؋ |
| ۲ | فرهنگ اصطلاحات حقوقی افغانستان | نظام الدین عبدالله | ۳۵۰؋ |
| ۳ | اقتصاد مدیریت | دومینیک سالواتوره | ۳۷۰؋ |
| ٤ | ښکلي ځوابونه | عبدالغفار جبیر | ۱۷۰؋ |
| ۵ | لونډ (ناول) | نصرت ارمان | ٦۰؋ |
| ٦ | منډه کړئ(ناول) | | ۸۰؋ |
| ۷ | دا غل دی!(لنډې کیسې) | | ٦۰؋ |
| ۸ | معجزه (لنډې کیسې) | | ٤۰؋ |
| ۹ | په ملي او بین المللي حقوقي اسنادو کې د ماشوم حقوق | پوهندوی محفوظ الله عارفي | ۱۲۰؋ |
| ۱۰ | بررسی تطبیقی حق آزادی بیان از دیدگاه اسلام و اسناد بین المللی حقوق بشر | جوانمیر عبدالهي | ۱۲۰؋ |
| ۱۱ | ژوند ته دې شفا ورکړه | لویس. ایل.هې | ۲۰۰؋ |
| ۱۲ | زما ولس به ژوندی پاتې شي | جورج حجاز | ۱۵۰؋ |
| ۱۳ | مثبتې لارښوونې | نجیب الله خان | ۱۰۰؋ |
| ۱٤ | تحصیلي مشاوره | داکتر منصور مجاب | ۱۵۰؋ |
| ۱۵ | گیتآنجلي | رابندر اناته ټاگور | ۱۰۰؋ |
| ۱٦ | د افغانستان د جزا قانون تحلیل | پهنوال احمد گل واثق درانی | ۳۰۰؋ |
| ۱۷ | د ژورنالېزم بنسټونه | خالد احمد حبیب | ۱۸۰؋ |
| ۱۸ | صحیح تلبیس ابلیس د شیطان زولنې | علامه ابن الجوزي | ۱۸۰؋ |
| ۱۹ | پارازیتو لوژی وترنری | جی.م.ارکوهات .جی. آرمو | ۳۵۰؋ |
| ۲۰ | هستولوژی و ترنری | بپوهیالی داکتر احمد فیصل امیری | ۲۷۰؋ |
| ۲۱ | د هارټیکلچري نباتاتو تکثیر اساسات او عملیې | دو کتور ر.ر. شرما | ۳۰۰؋ |
| ۲۲ | د ټولنیزو علومو د تدریس میتود | ښوونمل استاد عبدالمالک فیضان | ۸۰؋ |
| ۲۳ | په وینو ککړ الماس | عبدالجلیل بینش | ٤۰؋ |
| ۲٤ | هڅه او بریا | حبیب وقار | ۱۲۰؋ |
| ۲۵ | په ۲۱مه پېړۍ کې د بشري سرچینو مدیریت | زورلو سن یوسل | ۱۰۰؋ |
| ۲٦ | Essential words for the ToEfl | Baron | ۱۵۰؋ |
| ۲۷ | Azar Blue | hegan | ۳۰۰؋ |
| ۲۸ | اسلامي کورنی نظام | محمد صالح المنجد | ۸۰؋ |
| ۲۹ | لوی اقتصاد | حمد الله نظامي | ۲۵۰؋ |
| ۳۰ | Essential English words 1 4000 | Paul Nation | ۱۳۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ    اړیکه: 9696-98-0798 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,۵۰ |
| € | ۸٦,۲۰ |
| Rp. | ٥٤۲ |
| ₹ | ۱۰۷٥ |
| ¥ | ۱۰,۹۰ |
| £ | ۹٥,٦۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - انقره | 23:00 |
| کابل - استانبول | 19:00 |
| کابل - جده | 19:30 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# څنګه نوښتګر و اوسو؟

ژباړه: امان الله«حنیفي»

دا یو واقعیت دی چې نوي او خلاق فکرونه مو ډېرې وخت له نورو سلګونه ګامه مخکې کوي.

که فکر کوی چې تاسې نوی او خلاق فکر نه لرئ، یا نه شئ کولای چې تاسې یو خلاق کس و اوسئ، باید پوه شئ چې ډېره هڅه کول، هغه مهارت دی چې تاسې خلاقیت ته هڅوي.

نوښت سخت نه دی، هغه په اسانه او ساده لار سره رامنځته کېږي. که داسې ملګرې لرئ چې هغه نوښتګر فکر لري، د (څنګه) کلمې په پوښتلو سره له هغه سره ملګرې شئ او ترې وپوښتئ، څنګه په خپلو کارونو کې مثبت نوښت وکړم؟ یا څنګه تاسې په خلاق اوسېدو بریالۍ شوئ؟

هرڅوک غواړي خلاق او له نورو نوښتګر و اوسي، خو څنګه وکولای شي؟ په همدې مقاله دا لارې چارې درښیو:

**۱ - ۳۰ دایرې رسم کړئ**

دا کار هغه وخت سرته ورسوئ چې کله له کاره ستړي او خسته وئ. د دغه کار په سرته رسولو سره کولای شئ د خپل نوښت او خلاق اوسېدو کچه لوړه کړئ.

د کاغذ پر مخ ۳۰ دایرې رسم کړئ. په یوه دقیقه کې تر هغې چې مو له وسه کېږي، دا دایرې په مختلفو شکلونو بدلې کړئ.

دا کار په وار وار سرته ورسوئ او هر ځل دا هڅه وکړئ چې نوې او له مخکینې یې په ښه ډول جوړ کړئ.

دا کار له تاسې سره مرسته کولای شي چې نوی او د تېر په څېر له هغه ښه فکر وکړئ. نوی شکل رامنځته کړئ، پرته له دې چې د هغه له ازمویلو صرف نظر وکړئ.

**۲- کله چې وخت پیدا کوئ، ساده انځورګري وکړئ.**

انځورونه، معمولاً په ماشوموالي کې د وخت تېرولو یا ساتېرۍ لپاره رسمېږي. دا کار حتی په لویوالي کې هم د نوښت سبب کېږي.

دا کار له چاپېریال، خلکو او له هغوی سره د ارتباط پیداکېدو سبب کېږي.

انځورونه رسمول، د دې باعث کېږي چې له خپلو فعالیتونو سره ټینګې اړیکې جوړې کړئ.

څومره چې د چاپېریال په اړه ستاسې انځور رسمونه پیاوړې وي، هغومره به نوښتګر هم وئ.

کله چې د خپلو کړنو په اړه فکر کوئ او ذهن مو له اصلي موضوع اوړي، دا وخت انځورونه رسم کړئ.

د بېلګې په ډول، کله چې په یوه کاري جلسه کې ستاسې فکر یوخوا بل خوا مصروفېږي، دا وخت د کاغذ پر مخ ساده او اسانه انځورونه رسم کړئ.

کوښښ وکړئ چې له ځان سره یوه وړه د یادابنت کتابچه ولرئ، کله چې د ناارامۍ احساس کوئ، ساده او اسانه انځورونه رسم کړئ. په وار وار د دغه کار سرته رسول مو تمرکز راټولوي او په ټاکلې موضوع کې مو نوښت ته هڅوي.

**۳- کیسه ګۍ ولیکئ**

کیسه ګۍ معمولاً هغه وړ داستان دی چې له سلو کلمو نه اوړي. د کیسه ګۍ لیکل ستاسې نوښت زیاتوي، ځکه دا تاسې مجبوروي چې په کمو کلمو، کم وخت او اسانه ډول یو ښه مطلب نورو ته ورسوئ.

ډېرې انلاین ډلې شته چې هلته خلک لنډ داستانونه خپروي. کولای شئ هلته ګډون وکړئ او خپله ورتیا وښیئ او حتی له نورو سره سیالۍ هم وکړئ.

**۴- په خپل لاس یوڅه جوړ کړئ**

کله چې د نویو شیانو او وسایلو د جوړولو لپاره له خپلو لاسونو کار اخلئ، دا وخت خپل ټول حواس په کار اچوئ.

دا د همدې لامل کېږي چې تاسې د دغه کار په اړه نوی او خلاق فکر وکړئ. که غواړئ چې نوښتګر کس واوسئ، هنري کارونه تعقیب کړئ، داسې چې هغه په خپله سرته ورسوئ.

د بېلګې په ډول، اوبدل، خیاطي او یا هم نور لاسي وسایل چې خوښېږي مو تعقیب یې کړئ. دا کار به مو خلاق او نوښتګر اموخته کړي.

**۵- ویډیويي لوبې وکړئ**

د ویډیويي لوبو کول، د ذهن په خلاق اوسېدو او د لا نورو مهارتونو په زده کولو کې ډېره مرسته کوي.

هغه لوبې چې حواس پکې بوخت ساتل کېږي، په نوښت او اسانه سرته رسولو کې لا ډېره مرسته کوي. له هغو لوبو چې ډېر وخت کېناستو ته اړتیا لري، ځانونه وساتئ. خو یوه څه ته مو باید پام وي، داسې نه چې تاسې ټول وخت د ویډیويي لوبو کولو ته ورکړئ، دا کار هغه وخت سرته ورسوئ چې له کاره وزګار وئ.

**٦- ډېره مطالعه وکړئ**

کتاب لوستل ذهن ته د لا ډېر پرورش ورکولو تر ټولو ښه او کامیابه لار ده. په دوامداره ډول د کتاب لوستو عادت مو ځان کې پیاوړی کړئ. په هره برخه کې مطالعه وکړئ او د بېلابېلو سبکونو لرونکو لیکوالانو کتابونه ولولئ. داسې نه چې تاسې بیا د همغو لیکوالانو د سبک تقلید وکړئ، تاسې هغه یوازې د ځان لپاره الګو او نمونه وټاکئ، نور بیا خپله نوښت وکړئ او له هغوی بېله لار ځان ته وټاکئ.

د دې لپاره چې لا نوښتګر او خلاق و اوسئ، هر ورځ مطالعه وکړئ.

په ګروپي مطالعه کې ګډون وکړئ، دا مو مطالعې، د کتاب انتخاب او سیالۍ ته هڅوي.

کور ته مو له نږدې کتابخانې سره ملګرې شئ. په دې سره تاسې کولای شئ د پیسو له خرچ پرته ډېرو معلوماتو ته لاسرسی پیداکړئ.

## مشرانو جرګه: ډله ییزې حملې د حکومت د بې غورۍ له امله کېږي

د مشرانو جرګې د کورني امنیت او دفاعي چارو کمېسیون وایي، د وسله والو مخالفینو د ورمې ورځې په شان ډله ییزې حملې د حکومت د امنیتي بنسټونو د بې غورۍ او کمزوري مدیریت له امله رامنځته کېږي.

په داسې حال کې چې کابل وړمه ورځ یو وار بیا د وسله والو مخالفینو د ډله ییزې حملې شاهد و. د مشرانو جرګې د کورني امنیت او دفاعي چارو کمېسیون له حکومته غواړي چې د دا ډول حملو د مخنیوي په موخه استخباراتي بنسټونه پیاوړي کړي.

د دغه کمېسیون رییس محمد هاشم الکوزي ازادي راډیو ته وویل چې وسله والو مخالفینو د ورمې ورځې په حملې سره وښوده چې دغه ډله چې هر وخت او هر ځای وغواړي، خپلې موخې ته ځان رسولی شي.

نوموړي زیاته کړه: «دغه ډول ټولې پېښې د حکومت د بې غورۍ او ناتوانۍ له امله رامنځته کېږي. موږ هر وخت امنیتي بنسټونو ته ویلي چې طالبان یا نورې وسله والې مخالفې ډلې ستاسې پروړاندې ډېرې چمتو دي او مخالفین چې هر ځای، هر وخت وغواړي، حمله کولای شي، نو دا غفلت او دا ملامتیا په حکومت کې ده، په ځانګړې ډول ملي امنیت چې یو استخباراتي او کشفي ارګان دی.»

الکوزي وایي، سره له دې چې حکومت ښه پوهېږي چې وسله‌وال مخالفین دغه ډول حملې کوي، خو دوی یې بیا هم د مخنیوي لپاره تدابیر نه نیسي.

په همدې حال کې د مشرانو جرګې د سې شنبې د ورځې په عمومي غونډه کې دغه حمله وغندل شوه او د جرګې د مشر فضل هادي مسلمیار له لوري د کورني امنیت او دفاعي چارو کمېسیون ته دنده وسپارل شوه چې باید له هغو ادارو سره چې د دې حملې په مخنیوي کې یې ناغېړي کړې، خبرې وکړي او مجلس ته دې راپور وړاندې کړي.

د یادونې ده چې دغه ډله ییزه حمله د دوشنبې په ورځ په زړو مکروریانو کې د شهیدانو او معلولینو چارو پر معینیت او ټولګټو وزارت وشوه چې د وروستیو معلوماتو له مخې پکې ۴۳ تنه ووژل شول او لسګونه نور ټپیان شول.

## کډوالو چارو وزارت: روان کال د جګړو او وچکالۍ له امله له ۹۲ زرو ډېرې کورنۍ بېځایه شوې دي

د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزیر وایي، د جګړې ترڅنګ وچکالي هغه څه وه چې سږ کال یې زرګونه افغانان له خپلو مېنو بېځایه کړل.

نوموړی وایي، په ۱۳۹۷ لمریز کال کې د جګړو او وچکالۍ له امله له ۹۲ زرو څخه ډېرې کورنۍ بېځایه شوې دي.

نوموړي د مشرانو جرګې په استجوابیه غونډه کې په دې اړه وویل: «په ۱۳۹۷ لمریز کال کې په خواشینۍ سره چې د جګړو او ناامنیو ترڅنګ، د وچکالۍ له امله ۹۲۱۹۴ کورنۍ بېځایه شوې».

بلخي دغه راز وویل، دغه کورنۍ بېړنیو مرستو ته اړتیا لري او ملي شورا باید د راتلونکي کال په بودجه کې جدي پام ورته وکړي.

د طبیعي پېښو پر وړاندې د مبارزې وزارت د معلوماتو له مخې اوسمهال په ټول هېواد کې شاوخوا ۲،۲ میلیونه وګړي بېړنیو غذايي مرستو ته اړتیا لري.

د دغه وزارت په خبره، په تېرو څو کلونو کې څه باندې پنځه لکه کسان د وچکالۍ او ناامنیو له امله له خپلو اصلي مېنو نورو سیمو ته کوچېدلي چې مرستو ته اړتیا لري. له بلې خوا د مشرانو جرګې غړو د وچکالۍ ترڅنګ په پاکستان او ایران کې د افغان کډوالو ناوړه وضعیت هم د اندېښنې وړ یاد کړ. د دې جرګې غړي غیرت بهیر وویل، افغان کډوال په ګاونډیو هېوادونو په ځانګړې ډول ایران او پاکستان کې وهل او ټکول کېږي او سیاسي ګټه ترې اخیستل کېږي.

نوموړي زیاته کړه: «په ایران او پاکستان کې د افغان کډوالو وضعیت د اندېښنې وړ دی. وهل کېږي، سپکاوی ورته کېږي او د ځینو هېوادونو له لوري جګړو ته استول کېږي؛ له هغې ډلې د سوریې جګړې ته چې دې مسئلې ته باید جدي پاملرنه وشي.»

په ایران او پاکستان کې له افغان کډوالو سره ناوړه چلند که څه هم کومه نوې خبره نه ده، خو تردې وړاندې په ټولنیزو رسنیو کې خپرې شوې یوې ویډیو چې یو ایرانی پولیس پکې افغانان وهي او سپکې سپورې ورته وایي، په افغانستان کې د دننه د خلکو سخته غوسه راوپاروله.

## چین: له پاکستاني پلاوي سره مو د افغانستان پر حالاتو تفصیلي خبرې کړې دي

چین وایي، د پاکستان د بهرنیو چارو له وزیر سره یې د افغانستان پر نوو بدلېدونکو حالاتو خبرې کړې دي.

د کابل له یوه ورځني سفر وروسته د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي د چین پلازمېنې بیجېنګ ته تللی او پرون یې د دغه هېواد د بهرنیو چارو له وزیر وانګ یې سره لیدلي دي.

د چین د بهرنیو چارو وزارت له خوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، دواړو لورو د نورو موضوعاتو ترڅنګ د افغانستان پر بدلېدونکو حالاتو خبرې کړې دي.



د یادونې ده چې امریکا د افغان سولې په تړاو هلې ځلې پیل کړې او په دې برخه کې یې ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد سیمې ته درې سفرونه کړي دي.

د چین د بهرنیو چارو وزارت وایي، له پاکستاني پلاوي سره یې د افغانستان په اړه پر نوو پرمختګونو تفصیلي خبرې کړې. سرچینه زیاتوي، دواړو لورو د افغانستان د شخړې د هوارې لپاره پر سیمه ییزې اجماع هم ټینګار کړی.

په خبرپاڼه کې وړاندې راغلي: «چین او پاکستان پر دې باور دي چې افغان شخړه نظامي حللاره نه لري، یوازینۍ حللاره یې سیاسي جوړ جاړی کېدای شي».

چین وایي، دواړو لورو د افغان شخړې د هوارې لپاره له وروستیو هڅو ملاتړ هم څرګند کړ، خو په دې لیدنه کې د امریکایي ځواکونو پر وتلو خبرې نه دي شوې.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، جاوید کوتوال او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer Daily
New Vision, New Journey

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.

چهارشنبه د ۱۳۹۷ د مرغومي پنځمه | د ۲۰۱۸ د ډسمبر ۲٦مه | دویم کال | ۳۰۷مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | ۱۲ | ۱۵ | ۱۲ | ۱۸ | ۱۵ |
| -۱۰ | ۰ | -۱ | -۱ | ۲ | -۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۹ | لمر ختل ۰٦:۵۸ | ماسپښین ۱۱:۵٤ | مازیګر ۰۲:۳۲ | ماښام ۰٤:۵۰ | ماخوستن ۰٦:۲۰

## نړۍ




## ترکیه: ډېر ژر به د فرات سیند ختیځې غاړې ته ځان ورسوو



ترکیه وایي، ډېر ژر به د فرات سیند ختیځې غاړې ته چې د سوریې په شمال کې ده، ځان ورسوي.

د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر مولود چاووش اوغلو وویل، کله چې یې هېواد وایي چې سوریې ته ځواکونه استوي، نو بیا دا کار کوي.

تر دې یوه ورځ مخکې ترکیې ویلي وو چې له سوریې سره پر پوله خپل ځواکونه زیاتوي.

د ترکیې ولسمشر په دې ورستیو کې ګواښ کړی دی چې د سوریې په شمال کې به د کرد وسله والو پر ضد چې انقره یې تروریستان ګڼي، پراخ پوځي عملیات وکړي.

خو ترکیې وروسته له هغې د عملیاتو پلان وځنډاوه چې امریکا له سوریې د خپلو سرتېرو ایستل اعلان کړل.

ترکیه وروسته له هغې دغه خبرداری ورکوي چې په دې وروستیو کې د متحده ایالتونو ولسمشر وویل چې په سوریه کې داعش ماتې خوړلې او امریکایي ځواکونه دې له دغه هېواده بېرته امریکا ته راستون شي.

دغه راز ډونالډ ټرمپ د یکشنبې په ورځ پر ټوېټر ولیکل چې په سوریه کې د داعش د وسله والې ډلې د له منځه وړلو ماموریت به له دې وروسته ترکیه پر غاړه واخلي.

## زلمی خلیلزاد برای مشوره روی روند صلح افغانستان عازم هند می شود



زلمی خلیلزاد نماینده خاص امریکا برای صلح افغانستان، جهت انجام مشوره بر روند صلح افغانستان، ماه آینده وارد هند می شود.

رسانه های هندی، به تاریخ ۴ جدی گزارش داده اند که قرار است زلمی خلیلزاد ماه آینده، به دهلی جدید سفر نماید.

منبع افزوده است که خلیلزاد معلومات در مورد سفرها، دیدارها و تلاش‌های اخیرش را با مقامات هندی شریک خواهد کرد.

خلیلزاد در حالی این سفر را انجام می‌دهد که هندوستان، راجع به ملاقات های خلیلزاد با طالبان برخی نگرانی هایی دارد.

بعد از مؤظف شدن خلیلزاد منحیث نماینده ویژۀ امریکا برای صلح افغانستان، نامبرده سه بار به منطقه سفر نموده و با نمایندگان طالبان نیز دیدارهایی داشته است.

خلیلزاد به افغانستان، پاکستان، امارات متحده عربی، سعودی، قطر، ازبکستان، ترکمنستان و بلجیم سفرهایی داشته است، ولی هند را فراموش کرده بود.

عبدالمالک عاصم کارشناس مسائل سیاسی گفت که هند در مورد تلاش‌های اخیر پیرامون صلح افغانستان، ابراز نظر نکرده، ولی در گذشته از گفت‌وگوهای صلح به رهبری افغان ها حمایت نموده است.

به قول وی، هند بعد از امریکا و چند کشور دیگر، بزرگترین کمک کننده با افغانستان است که اسلام آباد از حضور گسترده اش در افغانستان، نگران است.

عاصم افزود که طالبان هم راجع به هندوستان چیزی نگفته اند؛ اما خلیلزاد تلاش می ورزد تا پیرامون صلح افغانستان، اجماع و هماهنگی منطقه را کسب نماید.

## په اندونیزیا کې د سونامي له امله د مړو شمېر ۴۲۹ ته لوړ شوی



اندونیزیایي چارواکي وایي، په دغه هېواد کې د رامنځته شوي سونامي له کبله د وژل شویو شمېر ۴۲۹ او د ټپیانو شمېر ۱۴۰۰ تنو ته رسېدلی.

چارواکي وایي، تر اوسه ۱۲۰ تنه تري تم دي چې د ژغورنې ډلې یې د موندلو په هڅه کې دي.

په اندونیزیا کې د یوه هوټل کارکوونکی د خپلو سترګو لیدلی حال داسې بیانوي: «کابو دوولس نیمې بجې وې چې د اوبو یوه لویه څپه زموږ پر لور را روانه وه، زه د مېلمنو د سالون لوري ته ولاړم، مېلمنو او خپلو مدیرانو ته مې وویل چې له دې ځایه ولاړ شي».

د سونامي له کبله ۵۵۰ کورونه او زیاتې کرنیزې ځمکې هم ویجاړې شوې دي.

د دغه هېواد یو بل اوسېدونکي او د رسټورانټ کارکوونکي د پېښې په اړه وویل: «هغه څپې چې سیمې ته راتلې، کابو دوه او یا درې متره وې. کله چې له دېوال سره لګېدې، نو څو برابره کېدې، دا څپې درې واره راغلې او هر وار له لومړۍ هغې نه زورورې وې.»


دا په داسې حال کې ده چې د دغه هېواد چارواکو د بلې سونامي د رامنځته کېدو خبرداری هم ورکړی دی او د ساحلي سیمو له اوسېدونکو یې غوښتنه کړې ده چې خپل کورونه پرېږدي.

د دغه هېواد چارواکي وایي، په سوماترا او جاوا ټاپوګانو کې سلګونه کورونه، هوټلونه او نورې ودانۍ، د دې سونامي د څپو له امله چې ښایي د اور غورځونکي غره د پارېدو له امله پورته شوې وي، ویجاړې شوې دي.

د دغه هېواد ولسمشر له ټولو حکومتي ادارو غوښتي چې سیمې ته بېړنۍ مرستې ورسوي.

## ژوند

## کباب شوې غوښه د پښتورګو لپاره خطرناکه ده



څېړنې ثابته کړې چې په اور پخه شوې غوښه د سرطاني ناروغیو لامل کرځي.

امریکایي ساینسپوهان وایي چې په سکروټو پخه شوې غوښه که چېرې په زیاته اندازه وخوړل شي، نو د سرطاني ناروغۍ خطر زیاتوي .

کینسر ژورنال مجلې د امریکا د ټکزاس پوهنتون د ساینسپوهانو له قوله لیکلي، که په اور پخه شوې غوښه یا (barbecue) په زیاته اندازه وخوړل شي، د سرطاني ناروغۍ خطر زیاتوي.

یاده څېړنه پر ۱۳۵۸ کسانو ترسره شوې او له تحقیق وروسته معلومه شوې چې له دې ډلې ٦۵۹ کسان د بډوډو پر سرطان اخته شوي وو. په سرطان اخته کسانو تر هغو نورو ډېره غوښه، په ځانګړي ډول سیخ کباب خوړ. ډاکتران وایي چې په ټوله کې د زیاتې غوښې خوړل د سرطان لامل کېږي.


امریکایي ساینسپوهانو ویلي، کله چې غوښه په زیات اور پخېږي، نو داسې کیمیاوي مادې پکې پیدا کېږي چې د انسان د جسم پر سلولونو حملې کوي یا دا چې د انسان په جسم کې د خلیو د جوړېدو او یا ماتېدا په کار اغېز ښندي چې تاثیر یې هم د سرطان په بڼه رامنځته کېږي او د همدغو کیمیاوي مادو له کبله د بډوډو یا پښتورګو د سرطان خطر۵۴ سلنه زیاتېږي .

## د ډیجیټلي عطرونو په اړه به مو دا نه وي اورېدلي؟

په مالیزیا کې ساینسپوهانو د لومړي ځل لپاره ډیجیټلي عطرونه جوړ کړي دي. د ډیجیټلي بوی یا عطر معنا دا ده چې په راتلونکو وختونو کې به راز راز بویونه د ایس ایم ایس (SMS) په وسیله یو بل ته لېږلی شی. د مالیزیا د انجنیرۍ انسټیټیوټ څېړونکي ادعا کوي چې د لرګي، مېوې او وېلنې یا نعنا الکتریکي بویونه یې اختراع کړي دي.

دوی وایي چې دا کار د انسان په پزه کې د یوه الکترود د ایښودلو په وسیله کوي. الکترود د پزې کمزوره الکتریکي جریانونه تحریکوي. دغه جریانونه هغه عصبونه فعالوي چې مختلف بویونه مغزو ته رسوي. د مالیزیا د انجنیرۍ انسټیټیوټ رییس ادریان چیوک په دې اړه وایي، دا د پروسې یوه برخه ده او د مجازي واقعیت په زیاتولو بشپړېږي.

دی وایي، دا طریقه مرسته کوي چې یو



څوک د انټرنېټ له لارې په مجازي ډول له خپل ملګري سره ډوډۍ وخوري. کاروونکي کولی شي چې نور په درې بعدي بڼه ووینې.

چیوک باوري دی چې په راتلونکي کې به بویونه په انټرنېټ کې په ډیجیټل ډول لېږل کېږي، خو ښایي دا ټکنالوژي څو لسیزې نور کار ته اړتیا ولري، خو څېړونکو تراوسه پورې د ۳۱ کمپنیو لپاره لس راز راز بویونه اختراع کړي دي.